# بسم الله الرحمن الرحیم

## په امریکا کې خپلمنځي اختلافونه

د امریکا کانګرېس د څلورو ورځو لپاره تاریخي فلج تېر کړ؛ ځکه جمهوري غوښتونکو په خپل منځ کې د یوه ویاند، چې په استازو مجلس کې د دوی مشري وکړي، پر ټاکلو شخړه کوله او ۱۴ ځله یې یو مشر ونه شو ټاکلی. وروستی ځل چې د استازو مجلس کې د مشر ټاکلو لپاره دومره هڅې ناکامې شوې؛ ۱۸۶۰ کال او د اختلاف او وېش سرکشه دوره وه چې بیا د امریکا د کورنۍ جګړې سبب شوه. د امریکا ځینو تاریخپوهانو سپیني ماڼۍ ته خبرداری ورکړی چې «امریکا له کورنیو جګړو څخه وړاندې حالت ته ورته بحران سره مخ ده.» له دغو لانجو سره سم د جنورۍ د ۶مې ګډوډۍ او بغاوت دوه کاله پوره شول او د کانګرس ځینو غړو نورو ته ورياده کړه چې څنګه د ټرمپ پارېدلي مینوال د دروزاو ترشا راغلل او د ډیموکراتانو پر مخکینۍ مشرې –چې له ټرمپ څخه د ټاکنو د غلا تور پرې پورې و- یې د برید پلان درلود.

له کله راهیسې چې بایډن واک ته رسېدلی، جمهوري غوښتونکي دومره واک نه لري، ځکه چې د کانګرس دواړه مجلسونه له هغه څخه ملاتړ کوي. خو دوې میاشتې وړاندې، منځمهاله ټاکنو جمهوري غوښتونکو ته په کم توپیر سره د استازو مجلس واک په لاس ورکړ؛ جمهوري غوښتونکو ۲۲۲ او ډیموکراتانو ۲۱۳ څوکۍ خپلې کړې. له دغې بریا وروسته جمهوري غوښتونکو د ټرامپ له ماتې وروسته لومړی ځل هیله پیدا کړه چې اوس کولی شي د بایډن اداره د محاسبې مېز ته را کش کړي او د راتلونکو دوو کلونو لپاره یې واک محدود کړي. د دې لپاره دوی باید لومړی د مجلس مشر ټاکلی وای چې د استازو مجلس د مشر په توګه کار وکړي، خو ګوند یې په خپل منځ کې وېشل شوی و.

دا کار باید دوی ته اسانه وای، خو نه و. یو ځای خو شخړه دومره زیاته شوه چې د استازو مجلس یو غړی له مت لګیتز سره –چې د هغې ډلې مشري یې کوله چې د جمهوري غوښتونکي کېوین مک کارتي د ټاکل کېدو مخه یې نیوله- له فزیکي شخړې را کش شو. بلاخره، په ۱۵مه هڅه کې، یکشنبه، د جنوري ۷مه، اکثریت مخالفو جمهوري غوښتونکو مک کارتي ته رایه ورکړه او د استازو مجلس مشر وټاکل شو، خو بیا هم شپږو جمهوري غوښتونکو خپله رایه ور نه کړه. مخالفان څه غواړي او د استازو مجلس د مشر په توګه د کېوین مک کارتي ټاکل به څه بدلون راولي؟

په لومړیو کې شلو جمهوري غوښتونکو مک کارتي ته منفي رایه ورکړه او ادعا یې کوله چې که څه هم هغه د دوی له ډلې دی؛ خو له فاسدو تشکیلاتو څخه دی. یوه محافظه کار شنونکي، ټکر کارلسن وویل: «مک کارتي په ځانګړي توګه محافظه کار نه دی. هغه له فکري اړخه د اګنوستېزم پیرو دی. د امریکا د لابي‌ګرۍ ټولنه د هغه ټاکنیزه حوزه ده. د هغه په اند صادقانه سیاسي عقیده لرل ښه نه دي او غوسه یې راپاروي.» په هر حال، غوڅ اکثریت جمهوري غوښتونکو مک کارتي ته رایه ورکړه، ان ټرمپ چې ویلي یې په راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو کې ځان نوماندوي، له خپل ګوند څخه یې غوښتي چې پر مک کارتي راټول شي او ملاتړ یې وکړي: «جمهوري غوښتونکو، دا لویه بریا په لویه ماته او شرم مه بدلوئ... دا د لمانځلو وخت دی، تاسو یې وړ یاست! کېوین مک کارتي به خپله دنده ښه ترسره کړي.»

د مک کارتي پر وړاندې اپوزیسون رهبري کوونکو هغه دې ته اړ کړ چې لا فکري محافظه کاره لار غوره کړي. د استازو په مجلس کې د دغو کسانو کمېټه «د مجلس د آزادۍ کمېټه» نومېږي؛ د محافظه کاره ارزښتونو لپاره مبارزه کوي او د ټرامپ ډېر ملاتړي دي. مک ګیټز د هغو شپږ تنو له ډلې دی چې مک کارتي ته یې رایه ور نکړه، هغه پر خپله وېبپاڼه لیکلي: «موږ به هېڅکله د امریکا د پرمختګ او ودې لپاره بښنه ونه غواړو. موږ به هېڅکله د لغوه کولو فرهنګ ته تسلیم نه شو. د ولسمشر ټرمپ تر څنګ ودرېږئ او د هېواد د بیا جوړولو لپاره مبارزه وکړئ!»

د آزدۍ کمېټه په ۲۰۱۵ کې رامنځته شوه، که څه هم په یاده کمېټه کې ګډون عام نه دی، خو ویل کېږي چې د مجلس څلورمه برخه د دغې کمېټې غړي دي. په کانګرس کې واک متمرکز دی او د مجلس د ازادۍ ډلې او د ټرمپ «امریکا بیا پیاوړې کړئ» خوځښت د کار یوه موضوع همدا ده چې دلته قدرت متمرکز نه وي او دغه راز هغه «مرداب وچ کړای شي» چې دوی فکر کوي د فدرال تشکیلات دي. په داسې حال کې چې ډېری جمهوري غوښتونکي د خپل ګوند د دریځ پر وړاندې نه درېږي، یو څو یې دا کار ځکه ښکاره وکړ چې دا ګوند نور هم راډیکال لوري ته کش کړي. د جمهوري غوښتونکو په منځ کې دا راډیکال کېدل تر یوه حده د ډیموکراتې ګوند د راډیکال کېدو د زیاتېدو پر وړاندې غبرګون دی.

مک کارتي له ډېرو جوړجاړیو وروسته د مجلس د مشر په توګه ومنل شو؛ مثلاً د دې تسهیل کول چې یوازې د یوه کس رایه د دې لپاره بس ده چې مشر لرې کړي. پر دې سربېره، مک کارتي منلې چې د استازو مجلس په ځینو مهمو کمېټو کې به د مجلس د ازادۍ کمېټې غړو ته ځای ورکوي؛ مثلاً هغه کمېټې چې د قانون په تدوین او اصلاح کې یې خبره چلېږي. ده همداراز منلې چې د دولت د لګښتونو پر وړاندې د مخالفت په برخه کې به د مجلس د ازادۍ کمېټې پلوي کوي. د ډموکرات ګوند غړي، اریک سوالوېل د دې پر وړاندې شکایت وکړ او ویې وویل: «دوه کاله وړاندې یاغیانو کانګرس مانۍ ونه شوی نیولی، خو نن شپه مک کارتي هغوی ته اجازه ورکړه چې پر جمهوري غوښتونکي ګوند واکمن شي.» په راتلونکو میاشتو کې د اف بي آی د سیاسي رول، د کووېډ-۱۹ د منشاء، د جنوري د شپږمې دسیسو او په ټاکنو کې د درغلیو په اړه د جنجالي څېړنو تمه کېږي. همدا راز د دې تمه هم کېږي چې د ډیموکراټانو نوی وړاندیز شوی قانون بند شي او د روان کال په پای کې چې د فدرال د پوررونو ۳۱،۴ ټرېلیونه سقف او د فدرال راتلونکې بودیجه تر بحث لاندې ونیول شي، جنجال او ناورین به رامنځته شي. د استازو مجلس اوس دا واک لري چې د ۲۰۲۴ کال د ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې د محافظه کارانو مبارزه له سره پیل کړي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## ډاکټر عبدالله رابین

**۱۴۴۴هـ.ق، د جمادی الثاني ۱۸مه**

**۲۰۲۳م، د جنورۍ ۱۱مه**